**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹**
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پانه:** www.unama.unmissions.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**داکتر نظیف الله سالارزی، د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

**نادر فرهاد، د ملګروملتونو د کډوالو د اداری ویاند په کابل کی**

*کابل- د مارچ د میاشتی ۳۰ نیټه، کال ۲۰۰۹*

## د افغانستان په اړه د هاګ کنفرانس

صبا ورځ (سه شنبه) په هاګ کې د افغانستان په باب یو نړیوال کنفرانس جوړیدونکی دی. موږ هیله من یو چې ددې غونډې لپاره به دوه مهمې اجزاوې موجودې وي چې پرهغه به بحث وشئ.

لومړی به د دې فرصت پیدا شي چې د هغو لومړیتوبونو په اړه په پرمختګ کې او د هغو لپاره د مرستو د برابرولو په باب یوه بیا کتنه وشي چې په تیر جون کې په پاریس کې د افغانستان په اړه پرېکړې هوکړه شوې وه. دوهم، دا به لومړی ځل وي چې د امریکا د حکومت د نوې ستراتیژۍ وروسته، افغانستان او د هغو نړیوال همکاران په لوړه کچه سره یو ځای کیږي. دا به یوه ورځنۍ غونډه وي او هغه پایله چې موږ یې د لیدلو تمه لرو دا ده چې د امنیت، د کارونو ایجادولو او ښې حکومت داري په لومړیتوبونو به بیا په ګډه او په ټینګار سره زور واچول شي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکی مون او د هغه ځانګړی استازی کای آیدی به په دې کنفرانس کې د ملګرو ملتونو له خوا استازیتوب کوي.

## د بیان د آزادي په باب د ځو اړخیزو برخه والو د سلا مشورو غونډه

نن ورځ یوناما د افغان ملي ژورنالستانو د اتحادیې، د افغانستان د خپلواک ژورنالستانو د اتحادیې او د جنوب شرق اسیا د آزادي خبري رسنیو اتحادیې په مرسته د "په افغانستان کې د بیان آزادي" په باب د ډیرو برخه والو یو کنفرانس جوړوي.

دغه یوه ورځنۍ غونډه به د افغان ژورنالستانو او ایډیټرانو، د خبري رسنیو او مدني ټولنې د سازمانونو، د افغانستان حکومت، پارلمان، تمویلوونکو او پالیسي جوړوونکو، د بشري حقونو د فعالینو او د نړیوالو سازمانونو په ګډون بیلا بیل برخه وال سره راغونډ کړي چې موخه یې د یوه جوړونکی لیک لارۍ لپاره د یوه ګډ منشور پیدا کول او په هغو لارو چارو باندې بحث کول وي چې د بیان آزادي ته پراختیا او خوندیتوب ورکوي او د هغو کسانو امنیت پیاوړی کوي چې په دې برخو کې کار کوي.

د دې وړاندوینه کیږي چې د ډیرو برخه والو د غونډې پایله به د "په افغانستان کې د بیان آزادي" د اعلامیې په شکل کې راڅرګنده شي، او هغه بنیادي اندیښنې به په ګوته کړي چې په ګډه سره پیژندل شوی او د مشترک عمل لپاره به یوه اجنډا برابره کړي چې هدف یې په افغانستان کې دبیان د ازادي پرمختیا، خوندیتوب او له هغې سره مرسته وي. په کنفرانس کې د ګډون لپاره بلن لیک ته ضرورت شته خو د مازدیګر په ۱۵:۵ بجو به یو مطبوعاتي کنفرانس جوړ شي.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري په اپریل کې له پاکستان څخه د راستنیدونکو لپاره عمل پروګرام بیا پیل کوي

په دې اونۍ کې د چهارشنبې په ورځ یو این ایچ سي آر د پاکستان له پیښور څخه په خپله خوښه د راجستر شویو افغانانو د بیرته راستنیدنې پروګرام پیل کوي.

پروګرام معمولا د ژمي په میاشتو کې دریږي ځکه چې یوازې محدود شمیر افغانان په دې وخت کې افغانستان ته راستنیږي. راجستر شوي افغانان چې د پاکستان په شمال غربي صوبه، پنجاب، سند او اسلام آباد کې اوسي او غواړي چې په خپله خوښه د یو این ایچ سي آر په مرسته بیرته راستانه شي، کولای شي چې د کال په اوږدو کې په پیښور کې د خپلې خوښې د ستنیدونکو مرکز ته ورشي.

د راجستر شوو افغانانو لپاره په کوټه کې د پیل نیټه به وروسته اعلان شی.

په ۲۰۰۸ کال کې په ټولیز ډول ۲۸۰۰۰۰ افغانان د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنرۍ د خپلی خوښې عملیاتو تر چتر لاندې بیرته خپلو کورونو ته ستانه شوي. په همدی ډول دغه دفتر داسې اټکلوي، چې په ۲۰۰۹ کال کې به له ایران او پاکستان څخه کابو ۲۲۰۰۰۰ افغانان بیرته خپل وطن ته راستانه شی.

دغه راجستر شوي افغانان کله چې د ملګرو ملتونو د دغه دفتر په مرسته بیرته وطن ته راځی، په منځني ډول هر شخص ته ۱۰۰ امریکایی ډالره د سفر د لګښت لپاره ورکوي او همدارنګه به د بیرته ستنیدلو د مرستی بسته تر لاسه کړي چې دوي سره په افغانستان کي په خپلو مینو کي د ځای پر ځای کیدو پر مهال کمک شی.

هغه افغانان چې د مرستو مرکزونو ته رسیږی باید خپل او د کورنیو د غړو د راجستر کارتونه، او د کورنیو د غړو ګډ دوه رنګه عکسونه د ثبوت په ډول له ځانه سره ولري. د یو ان اچ سی آر دفتر به د دغو کارتونو او عکسونو پرته په هیڅ کار اقدام و نه کړي.

د طالبانو د رژیم له را پرځیدو وروسته او د ۲۰۰۲ کال په پیل کي د پاکستان او ایران څخه د خپلی خوښی د بیرته راستنیدنی یوه ستره لړۍ پیل شوه. د دغه پروګرام له مخه چې د دری اړخیزه تړون پر بنسټ چې د افغانستان، ایران، پاکستان او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنرۍ دفتر تر منځ لاس لیک شو، له ۴،۴ ملیونه( کابو د ټول نفوس ۲۰ فیصده) هیواد ته بیرته ستانه شوي دي.

لا تر اوسه هم په ایران او پاکستان کي کابو ۲،۷ ملیونه تنه راجستر شوي افغانان شته. د دوي زیاتره برخه د شل کلنی جګړي له امله د هیواد څخه وتلی دي.

## ملګري ملتونه په افغانستان کي د ماینونو په اړه د خبرتیا ورځ لمانځي

لکه څرنګه چي تاسو خبر یاست راتلونکی شنبه د ماینونو په اړه د خبرتیا او د ماین پاکولو د مرستی نړیواله ورځ ده چي د ۲۰۰۵ کال راهیسی کله چي د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا وټاکل شوه، هر کال لمانځل کیږی.

دلته په افغانستان کي موږ ټول د ماینونو څخه د رابرسیره شوو ګواښونو سره ښه آشنا یو.

نن ورځ موږ د ټولو رسنیو څخه غواړو چي د دي ورځي د اهمیت او ارتقاء په اړه، نه یوازی د شنبي په ورځ، بلکی په راتلونکو ورځو کي د ځانګړو راپورونو، مقالو، د پوهاوي پروګرامونو او هر هغه څه چي د ماینونو په هکله پوهاوي زیاتوي او مرسته کوي چي د دغو توکو په واسطه د نورو کسانو د وژل کیدو او ټپی کیدو مخنیوي کوی، له خپرولو سره مرسته وکړي. راځئ چي دغه اوونی د پوره کال لپاره د ماینونو په اړه د پوهاوی پروګرام وګرځوو.

یوازی په افغانستان کي هر میاشت په اوسط ډول په ۶۰ تنه د ماینونو او یا د ناچاودو توکو له امله وژل شوي او یا خو ټپی شویدی، چي په نړۍ کي تر ټولو زیات متاثره هیواد جوړوي.

د دی نړیوالی ورځی د سږ کال د نړۍ د یادونی موضوع، د ماینونو څخه د ژوندي پاتي شوو او نورو زیاتیدونکو قربانیانو پر اړتیا باندي تمرکز لري، او د ماینونو او د جګړو څخه د پاتي شوو ناچاودو توکو د ګواښ څخه د یوي آزادي نړۍ لید په لور ستر خوځښت لمانځي.

یوازي په ۲۰۰۸ کال کي، د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرام په واسطه د ۸۴،۰۰۰ څخه زیات پرسونل ضد ماینونه، ۹۰ ټانک ضد ماینونه او د جنګ څخه ۲،۵ میلیونه پاتي شوني توکی له منځه وړل شوي دي. په نتیجه کي ۵۰ کیلو متره مربع په ماینونو ککړه او نږدې ۱۱۳ کیلومتره مربع د جنګ پخوانی سیمی د ماینونونو څخه پاکي شوی دي.

د خطرونو د شمیر په حواله، د افغانستان د تړون لاندي ځای شویو موخو ته د رسیدو د ترلاسه کولو په برخه کي نږدې ۷۶ سلنه کار سرته رسیدلی او همدارنګه د اوټاوا د تړون لیک چي (د ماین د بندولو د تړون په نوم هم یادیږي) د ماینونو د بشپړه له منځه وړلو لپاره دی نږدې ۵۳ سلنه کار پوره شوی دی.

په دې هکله نور معلومات د میز پر سر پراته دی، همدارنګه د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د وروستي راپور لنډیز هم موجود دی، په دې راپور کي د ماینونو د پاکولو د بریاوو او راتلونکو اندیښنو په هکله څرګندوني راغلي دی.

**د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د ملکي خدمتونو کنفرانس**
د ملکي خدمتونو اصلاحات/ريفورم، بنه او غوره فعاليتونه او د راتلونکی لپاره لاربنودونه د راتلونکی چهارشنبې په ورځ د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د ادارې اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کميسيون د دوه ورځنی کنفرانس موضوع ده.

خبرې اترې به د حکومت د کليدی شريکانو ترمنځ وي، تمويل کوونکي او د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام په هيواد کې د عامه سکتور لپاره د ظرفيت د پراختيا مرستې برابروي.

د تيرو څو کلونو په جريان کې، د افغانستان د حکومت او ملکي خدمتونو د کميسيون سره د نږدې همکارۍ له لارې، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام د افغان موثره او وړ ملکي سيستم د جوړولو ملاتړ کړی دی.

اوس مهال د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام د دې پروګرام د دريو ملاتړيو پروژو له لارې په مرکزي او ولايتي کچو کې د کميسيون ملاتړ کوي.

پروژې د ملکي کارکوونکو لپاره د روزنو او نظارت او همدارنګه د حکومت د عامه ادارې د اصلاحاتو د پروسې ملاتړ کوي.

دا کنفرانس د ۲۰۰۹ کال د اپريل د مياشتې له لومړۍ نيټه څخه تر دومې پورې د سهار له ۸:۳۰ بجو څخه د مازديګر تر ۱۵:۵۰ پورې د کابل سرينا په هوټل کې دايريږي.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**د نورين تلويزيون:** د هيواد ستری محکمې د ۲۰۰۹ کال د مي د مياشتي د ۲۲ نيټي وروسته د ولسمشر موده د يوه رسمي حکم په صادرولو سره وغځوله. د هيواد پارلمان او ځينو سياسي ګوندونو د محکمې پريکړه غندلې او هغه بېاساسی قانون ته نه درناوي بللی. آيا يوناما د ستری محکمې د دغې پريکړې ملاتړ کوي؟

**يوناما:** که چيرې تاسو په دې هکله د يوناما دريځ کوم چې د عمومي منشي د ځانګړی استازي کای آيدی له خوا بيان شوی په ياد کړې، ويل شوی چې دا مسله يوه افغاني مسله ده، دا په افغانانو پورې اړه لري چې په دې هکله يوه ملي هوکړې ته ورسيږي.

**راديو آزادی:** د متحد آيالاتو نوې ستراتيژي افغانستان ته د زياتو ځواکونو او نورو برخو (پاکستان) ته د مرستو د برابرولو په هکله خبرې کوي، ستاسو نظر د دې نوې ستراتيژي په هکله څه ده؟

**يوناما:** موږ فکر کوو دغه يوه مثبته ستراتيژي ده. د څه وخت راهيسي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی آستازی کای آيدي د نظامي او ملکي هڅو په انډول او د افغان ادارو په جوړولو او بنه حکومت کولو غوښتنه کوله. دغه مهم عنصرونه د متحده آيالاتو په نوې ستراتيژي کې راغلي دي. يوناما ته د پلی هاخوا د مسايلو په هکله ماموريت نه دی ورکړل شوی. تاسو ښايي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ښاغلی کای آيدي غوښتنه په ياد ولرئ چې نوموړی په وار وار سره د سياسي جريان ترڅنګ د نظامي جريان په اړتيا تاکيد کړی.

**پژواک:** زه غواړم د هاګ د کنفرانس په اړه وپوښتم، څو ملکونه په دې کنفرانس کې ګډون لري او په کومه کچه؟

**يوناما:** ۸۰ ملکونه او ۲۰ نړيوال سازمانونه به په لاهه کې د ملګرو ملتونو تر مشرتابه لاندې سره راغونډ شي. ملګري ملتونه، د افغانستان حکومت او هالنډ به د مارچ په ۳۱ د دې نړيوال کنفرانس کوربه وي چې د "په سيمه ييزه چاپيريال کې يوه څو اړخيزه ستراتيژي" نوميږي. عمومي منشي بانکي مون او د هغه ځانګړی استازی کای آيدي به په دې کنفرانس کې د ملګرو ملتونو استازيتوب کوي.

**د یک ټلویزیون:** ویل کیږي چې د افغانستان حکومت به په دې کنفرانس کې د افغاني ملي اردو او افغان پولیسو په شمیر کې د زیاتوالی غوښتنه وکړي. ملګري ملتونه له دې کنفرانس څخه څه تمه لري؟

**یوناما:** موږ د دې تمه لرو چې په دې کنفرانس کې دوه مهمې اجزاوې مخې ته پرتې وي: لومړی، د دې فرصت به پیدا شي چې په تیر جون کې د پاریس په کنفرانس کې د افغانستان لپاره د لومړیتوبونو په اړوند په پرمختګ او د هغو لپاره د مرستو په برابرولو په کار باندې بیا کتنه وشي. زما وړاندیز دا دی چې تاسې د پاریس د کنفرانس سندونه ولولئ هغه لومړیتوبونه کوم دي چې افغانستان او د هغه همکارانو په دې کنفرانس هوکړه وربا‌ندې کړې وه. دویم، دا لومړی ځل دی چې افغانستان او د هغه نړیوال همکاران په لوړه کچه د امریکا د نوی ستراتیژي څخه وروسته سره راغونډیږي. دا یوه ورځنی غونډه ده، مګر هغه پایله چې موږ یې د لیدو په تمه یو دا ده چې په امنیت، د کارونو په ایجادولو او ښې حکومت داري باندې د لومړیتوبونو په څیر بیا په ګډه سره ټینګار وشي.

**د بی بی سي پښتو راډیو:** د راستنیدونکو افغانانو شمیر هر کال راټیټیږي. ستاسې په فکر ددې علت څه شی دی او فکر کوئ چې سل امریکایې ډالره ددې لپاره بس دي چې د دوی ټول لګښتونه پوره کړي؟

**د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره:** د افغان کډوالو شمیر چې غواړي بیرته افغانستان ته را وګرځي له ۲۰۰۵ کال راهیسې کم شوی دی. د دې شاته دوه علتونه پراته دي: یو یې داخلي او بل یې بهرني عامل دی. په داخلي غواملو کې د کارونو د اقتصادي فرصتونو نشتوالی، د ملک په ځینو برخو کې خصوصا په جنوبی او جنوب شرقي برخو کې نا امني شامیلیږي. بهرنی عامل دا دی چې ځینې افغان کډوال له ۲۵ کلونو راهیسې له ملک څخه بهر ژوند کوي. موږ د دویم او دریم نسل د دې کډوالو په باب خبرې کوو. د دغو کډوالو لپاره اسانه نه ده چې د بیرته راستنیدو پریکړه وکړي او دا وخت ته اړتیا لري. باید په یاد ولرو چې تیر کال ۲۸۰،۰۰۰ افغانان بیرته خپل ملک ته راګرځیدلی دي. دغه شمیره په نړۍ کې د هغو کډوالو په اړه یوه لوړه شمیره ده چې بیرته خبل وطن ته راګرځي. له ۲۰۰۲ راهیسې ۵ میلیونه افغانان یعنی د ټول نفوس په سلو کې شل وطن ته راستانه شوي دي. د پیسو په باب، که یوه کورنی پنځه تنه غړي ولري نو ۵۰۰ ډالره به واخلي او که یې د غړو شمیر لس تنه وي نو زر (۱۰۰۰) ډالره ورته رسیږي کله چې غواړي بیرته راستانه شي. پر دې سربیره د یو این ایچ سي آر پلان په دې کال کې دا دی چې د راستنیدونکو لپاره په افغانستان کې لس زره سرپنا وی برابرې کړي او بله پروژه دا ده، چې د پاکو اوبو په برابرولو به یو میلیون ډالره مصرفیږي.

**افغانستان ټایمز:** تاسې وویل چې د یوناما صلاحیت دا دی چې په افغانستان کې کار وکړي نه په پاکستان کې. لیکن له سرحد سره په اوږدو کې فعالیتونه په افغانستان باندې په مستقیم ډول اغیزه لري او د دې لپاره د امریکا په نوې ستراتیژۍ کې خپل یو ځای شته. د پاکستان حکومت په وار وار په دې تورن شوی دی چې له طالبانو سره مرسته کوي. مګر د کرښې په دې غاړه کې د عسکرو په شمیر کې زیاتوالی راځي، د دې په ځای چې د پاکستان په خاوره کې د تروریستانو مرکزونه ویجاړ شي.

**یوناما:** زه بیا تکراروم چې دا زموږ وظیفه نه ده چې په هغو شیانو تبصره وکړو چې د سرحد ها خوا رامنځ ته کیږي دا د دوو خپلواکو هیوادونو، افغانستان او پاکستان دنده ده چې هغه په ګډه سره حل کړي. څه شي چې د ملګرو ملتونو لپاره مهم دي هغه دا دی چې د دوو ملکونو په منځ کې سیمه ییزه همکاري پیاوړي شي ترڅو دواړه ملکونه په سوله کې ژوند وکړي.

**د طلوع تلویزیون:** تاسو وویل چې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنري د بیا راستندنې د افغان کډوالو لړۍ زیاته شوې. آیا تاسو فکر نه کوئ چې دا د حکومت د نه پاملرنې له امله لکه څنګه چې موږ ټول د کډوالو د لیدلو په موخه ګاونډیو هیوادونو ته ولاړو، رامنځ شوي؟ هغوي په ناوړه شرایطو کې ژوند کوی، حتی د خوړولو لپاره یې هم څه نه درلودل. آیا تاسو د هغو کسانو په هکله چې خپل هیواد ته ستنیږي فکر نه کوي چې هغوي به د ورته وضیعت سره لاس او ګریوان شي؟

**د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره:** روښانه ده چې د ۵ میلیونو څخه د زیاتو افغانانو راستنیدنه به د هیواد په موجوده جوړښت فشار واچوي. په دې وروستیو وختونو کې زه په یاد نشم راوړاي چې د ۵ میلیونو وګړو داسې ستره خوځیدنه چې د هیواد ۲۰ سلینه جوړوي په هیواد کې په داسې ډول جذب شي. په دې توګه د دې

کسانو زیاته برخه خپلو اصلي ټاټوبو ته ستانه شوی. هو یو زیات شمیر کسان د ژوند په بدو حالاتو کې ژوند کوي. خو بیا، د افغانانو راستنیدنه په هیواد کې د بې ثباتي او په هیواد کې د اقتصادي ټولنیزو حالاتو په ښه کولو باندې مستقیمه اغیزه لري. خو په رښتیا سره ښه ثبات او په هره برخه کې ښه والی به په هیواد کې د افغانانو د بیا راستندنې په پریکړو اغیزې ولري.